Permanent Mission of Afghanistan to the United Nations

د ښاغلي نصير احمد فايق وينا
په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د دايمي استازولۍ شارژدافير

درېيمه کمېټه، د عمومي اسامبلۍ يو اتيايمه غونډه | د اجنډا ۷۰ ماده (الف–د)
په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعيت د راپور وړاندې کول او د افغانستان د بشري حقونو د وضعيت له ځانګړي راپور ورکوونکي، ښاغلي ريچارډ بېنېټ، سره خبرې اترې

۲۸ اکتوبر ۲۰۲۶ ۰ نيويارک

ښاغلی رئیس،

له ځانګړي راپور ورکوونکي، ښاغلي ریچارډ بینیټ، څخه د هغه د راپور او د افغانستان خلکو ته د هغه د دوامداري ژمنتیا له امله مننه کوم. موږ د بشري حقونو شورا له خوا د ځانګړي راپور ورکوونکي د ماموریت د وروستي تمدید هرکلی کوو او د هغه له خپلواکي ځارنې او راپور ورکونې څخه خپل بشپړ ملاتړ بیا تأییدوو. هیله لرو چې افغانستان ته د هغه د خوندي او بې‌خنډه لاسرسي زمینه برابره شي.

ښاغلی رئیس،

د دې راپور لوستل دردناک دي. د افغانانو لپاره، د دې راپور په موندنو کې د خپلو کورنیو، ګاونډیانو او ماشومانو د ورځنیو تجربو لیدل لا ډېر دردناک دي. واک ته د طالبانو له پوځي راستنېدو پنځه کاله وروسته، افغانستان له یو له بل سره ټرلو سیاسي، د بشري حقونو، بشردوستانه، اقتصادي او امنیتي بحرانونو سره مخ دی. د افغانستان خلک لا هم کړاوونه ګالي، په داسې حال کې چې طالبان د تبعیضي قوانینو، ځپنې او ګوښه کولو له لارې خپل کنټرول ټینګوي. دا بحرانونه له یو بل څخه جلا نه دي. دا د داسې حکومتولۍ پایلې دي چې بنسټیز حقونه ردوي، ښځې او نجونې له عامه ژوند څخه باسي او د مخالفانو د غلي کولو لپاره په زیاتېدونکي ډول له وېرې او جبر څخه کار اخلي.

ښاغلی رئیس،

راپور په سمه توګه ماشومان او ځوانان زموږ د پاملرنې په مرکز کې ځای پر ځای کوي. هغه څه چې په افغانستان کې روان دي، یوازې د نن ورځې د حقونو سلبول نه دي؛ بلکې د یوه بشپړ نسل د فرصتونو له منځه وړل دي. د اټکلونو له مخې، په ۲۰۲۴ کال کې شاوخوا ۳/۸ میلیونه نجونې، چې عمرونه یې د ۷ او ۱۸ کلونو ترمنځ وو، له ښوونځي بهر پاتې وې. نجونې لا هم له ثانوي زده کړو او ښځې له پوهنتوني زده کړو محرومې دي. هر تېرېدونکی کال د دې محرومیت پایلې نه یوازې د نجونو لپاره، بلکې د افغانستان د راتلونکي لپاره هم ژوروي. موږ د هغو افغان نجونو زړورتیا ستایو چې د ټولنیزو نوښتونو او انلاین زده کړو له لارې خپلې زده کړې ته دوام ورکوي. دا هڅې د نړیوالې ټولنې د لا ډېر ملاتړ وړ دي، خو د زده کړې د حق د بې‌قید او شرطه بېرته ټینګښت ځای نه شي نیولی.

هلکان او ځوانان هم له مخ په محدودېدو فرصتونو سره مخ دي. د عمومي زده کړو د کیفیت ټیټېدل، د ایډیولوژیکو او جهادي دیني مدرسو پراخېدل، د ماشومانو کار او په وسله‌والو ځواکونو کې د هغوی جذب د اندېښنې وړ دي. راپور په ۲۰۲۵ کال کې د طالبانو د ځواکونو له خوا د ۲۰۴ هلکانو جذب ثبت کړی دی. زده کړې باید ځوانان په پوهه او انتقادي فکر سمبال کړي او فرصتونه ورته برابر کړي، نه دا چې هغوی له ایډیولوژیک تلقین سره مخ کړي.

د عدلي بنسټونو او د ماشومانو او ځوانانو د ساتنې د ادارو له منځه وړل هم په همدې کچه د خطر زنګ دی. راپور بدني سزاوې، د ماشومانو او اجباري ودونه، استثمار او له لویانو سره د ماشومانو یوځای بندي کول مستندوي. د طالبانو وروستیو فرمانونو د ښځو او نجونو ساتنه نوره هم کمزورې کړې ده؛ له تاوتریخوالي ډکو ودونو څخه یې خلاصون ډېر ستونزمن کړی او د ماشومانو د ودونو او کورني

تاوتریخوالي پر وړاندې يې تضمینونه کمزوري کړي دي. دا سیاستونه له اسلامي لارښوونو، د افغانستان د خلکو له دودونو او د بشري حقونو په برخه کې د افغانستان له نړیوالو ژمنو سره په ټکر کې دي او باید پای ته ورسېږي.

ښاغلی رئیس،

مونږ د طالبانو له خوا د عمومي ښځې په اړه له پرلەپسې ډاډونو سره سره، د پخوانیو امنیتي ځواکونو د بشري حقونو د سرغړونو د دوام په اړه هم ژوره اندېښنه لرو. د یوناما د راپور له مخې، د ۲۰۲۵ کال له اکتوبر څخه د ۲۰۲۶ کال تر جون پورې لږ تر لږه ۲۷ پخواني امنیتي منسوبین وژل شوي دي. د راپورونو له مخې، نور پخواني منسوبین هم له خپلسرو نیونو، شکنجې او ناوړه چلند سره مخ شوي دي. مونږ د دغو سرغړونو د سمدستي پای ته رسېدو، خپلواکو پلټنو او د عاملانو د حساب ورکونې غوښتنه کوو.

مونږ د ښځینه فعالانو او د رسنیو د کارکوونکو د خپلسرو نیونو، شکنجې او جنسي ځورونې، او همدارنګه د هغو ملکي وګړو د جبري لادرکه کولو او خپلسرو وژنو د راپورونو په اړه هم ژوره اندېښنه لرو چې له وسلەوالو مخالفو ډلو سره په اړیکو تورن شوي دي.

د قومي او دیني لږکیو وضعیت هم بېړنۍ پاملرنې ته اړتیا لري. په هرات کې یوه زیارت ته نږدې د ۱۳ شیعه مسلمانانو وژل کېدل، د شیعەګانو پر باورونو او دیني او کورنیو دودونو محدودیتونه، د ځمکو او ملکیتونو غصب او د هزاره او شیعه ټولنو جبري بېځایه کول د ژورې اندېښنې وړ دي. هېڅ افغان باید د خپل قومیت، دین یا عقیدې له امله له ځورونې، تعقیب، تبعیض یا جبري بېځایه کېدو سره مخ نه شي.

ښاغلی رئیس،

د کډوالو پراخې راستنېدنې، بېوزلۍ او بشردوستانه ستونزو د افغانستان د خلکو کړاوونه لا زیات کړي دي. د ۲۰۲۳ کال له اکتوبر راهیسې، له پنځو میلیونو ډېر افغانان له ګاونډیو هېوادونو راستانه شوي دي، چې ډېرې یې تر فشار لاندې او له کافي ملاتړ پرته راستانه شوي دي. مونږ د کوربه هېوادونو د اوږدمهالې میلمەپالنې قدرداني کوو، خو یو ځل بیا د جبري بېرته نه ستنولو د اصل د بشپړ رعایت غوښتنه کوو.

نږدې ۹ میلیونه افغان ماشومان له سختې لوږې سره مخ دي او تر پنځو کلونو کم‌عمره ۳/۷ میلیونه ماشومان له حادې خوارځواکۍ رنځ وړي. د ښځو پر زده کړو او کار محدودیتونه بنسټیز خدمتونه، په ځانګړې توګه عامه روغتیا، نور هم کمزوري کوي.

د ملکي وګړو ژوند هم باید په ټولو شرایطو کې خوندي شي. مونږ د ملکي تلفاتو د راپورونو په اړه د خپلواکو پلټنو له غوښتنو ملاتړ کوو، په شمول د کابل د امید د روږدو د درملنې پر مرکز د برید په اړه، چې د ۲۶۹ کسانو ژوند یې واخیست. مونږ د ملکي وګړو په نښه کول او د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا نقض غندو. نړیوال بشردوستانه حقوق باید د ټولو لورو له خوا، له استثنا پرته، رعایت شي.

ښاغلی رئیس،

نړیوال غبرګون باید د اندېښنې له ځرګندولو هاخوا ولاړ شي او په دوامدارو، همغږو او د سنجولو وړ اقداماتو بدل شي.

لومړی، د ښځو او نجونو د حقونو بېرته ټینګښت باید داسې لومړیتوب پاتې شي چې د معاملې وړ نه وي. له طالبانو سره تعامل باید د تبعیضي سیاستونو د عادي کولو پر لارې بدل نه شي. دا تعامل باید د روښانه معیارونو او د بشري حقونو په وضعیت کې د هغو پرمختګونو پر بنسټ پر مخ ولاړ شي چې په خپلواکه توګه تأیید شوي وي.

دویم، بشردوستانه مرستې، په ځانګړې توګه د زده کړو، روغتیا، د ماشومانو د ساتنې او معیشت په برخو کې، باید دوام ومومي. د افغانانو په مشرۍ نوښتونه، په ځانګړې توګه د ښځو په مشرۍ هغه سازمانونه چې د زده کړو خوندي او بدیل فرصتونه برابروي، لا ډېر ملاتړ ته اړتیا لري.

دریم، د حساب ورکونې بهیر باید پرمختګ وکړي. موږ د افغانستان لپاره د خپلواک تحقیقاتي میکانېزم د جوړېدو هرکلی کوو او پر وخت یې د فعالیت د پیل او د کافي سرچینو د برابرېدو غوښتنه کوو. موږ د «ټولو شته وسایلو» د کارولو له تګلارې او د حساب ورکونې د تأمین لپاره له یو بل بشپړوونکو هڅو ملاتړ کوو، په شمول د جزا نړیوالې محکمې، د ښځو پر وړاندې د تبعیض د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسیون «سیډاو» د میکانېزمونو او نورو اړوندو نړیوالو میکانېزمونو له لارې. له مجازاتو ځخه معافیت باید د افغانستان د بحران په یوې بلې دایمي ځانګړنې بدل نه شي.

څلورم، افغانان باید د خپل هېواد د راتلونکي په ټاکلو کې معنا لرونکی رول ولري. ښځې، ځوانان، لږکي، معلولیت لرونکي کسان او مدني ټولنه باید په هغو پرېکړو کې شامل وي چې په مستقیم ډول د هغوی پر ژوند اغېز کوي.

په پای کې، دا ننګونې د افغانستان بنسټیز سیاسي بحران ته له رسېدنې پرته نه شي حل کېدای. موږ یو ځل بیا د یوه همغږي نړیوال چلند غوښتنه کوو چې **د افغانانو په مشرۍ او د ملګرو ملتونو په اسانتیا برابرولو سره د یوه سیاسي بهیر ملاتړ وکړي، څو د افغانستان د خلکو د ارادې او حقونو پر بنسټ ټولشموله، د خلکو استازیتوب کوونکې او حساب ورکوونکې حکومتولي رامنځته شي.**

د خاورې کنټرول مشروعیت نه رامنځته کوي. مشروعیت له داسې ټولنیز ټرون ځخه سرچینه اخلي چې د خلکو پر اراده، د هغوی حقونو ته پر درناوي او حساب ورکوونکي حکومتولۍ ولاړ وي. نړیوال تعامل باید د افغانستان د خلکو د حقونو او هیلو په خدمت کې وي او هېڅکله باید ځپنه یا ګوښه کول عادي نه کړي.

ښاغلی رئیس،

له هغو ستونزو سره سره چې په دې راپور کې مستندې شوې دي، افغان نجونې لا هم زده کړې کوي، ښوونکي لا هم درس ورکوي او ځوانان لا هم د یوه ښه راتلونکي په لټه کې دي.

د هغوی ټینګه اراده یوازې زمونږ د ستاینې وړ نه ده؛ دا اراده معنا لرونکي او دوامدار نړیوال اقدام ته اړتیا لري.

د افغانستان راتلونکی باید د دې هېواد له خلکو پرته ونه ټاکل شي او نه هم د هغوی د بنسټیزو حقونو د انکار پر بنسټ جوړ شي.

له تاسو مننه کوم، ښاغلی رئیس.

ښاغلی ځانګړی راپور ورکوونکی،

غواړم د دوو پوښتنو په اړه ستاسو نظر واورم:

لومړی، ملګري ملتونه او غړي هېوادونه د افغان نجونو او هلکانو لپاره د خوندي او باکیفیته زده کړو د پراخولو په موخه کوم عملي اقدامات کولای شي او په ورته وخت کې ځنګه د ځوانانو په راتلونکي اغېز لرونکو پربکړو کې د هغوی معنا لرونکی ګډون تضمینولای شي؟

دویم، غړي هېوادونه ځنګه کولای شي د هدفي وژنو، جبري لادرکه کولو او د لږکیو د حقونو د سرغړونو اړوند شواهدو مستندول او ساتل پیاوړي کړي، څو اغېزمنه حساب ورکونه تضمین شي؟

مننه.